


Ketabton.com

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب پېژندنه :

ــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــــ

د کتاب نوم : دځنګل ځناور

لیکوال : اجمل ((اټك)) یوسفزی

کمپوز او دیزاین : دفتربت شکنان

د چاپ شمیر: پنځه سوه ټوکه

خپرندوی : وحشی کولتوری ټولنه

نیټه : 1381 دغوايي اومه

دخپریدوحقوق : پرته له لاس وهنې يې هرڅوك خپرولای شي

دویم چاپ

دهلال یاسیني نه مننه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ډالۍ (! ؟)

دافغاني تاريخ هغو سپيڅليو اتلانوته چې په درندو بمونو يې دتن غوښې باد،باد شوې خوترپايه يې غليمانوته خپل سرونه کښته اولاسونه پورته نه کړل .

(داسر ربه مات شوی خوټيټ شوی چاته نه دی

پنځه وخته يې تاته په محراب کې راولم )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



**منن ليك:**

له قدرمن اودرانه استادرفيع صاحب څخه دزړه له کومې مننه کوم چې دغه کيسه ګۍ يې ولوسته اولازمې لارښوونې اوپيرزوينې يې راباندې وکړې.

| |
|---|
| دګران اجمل جان مينه اوپښتنو پوهانو سره دقدروړده . دامينه ئې ښيرازه اوسمسوره اوسه . * ارواښاد پوهاند صديق الله رښتين * |
| په اجمل کې ملي دردشته اوهمدغه درددی چې دی سوچه ليکل کوي نه دشهرت اومادې مطلب له پاره : لکه يوه دانه غنم چې په خاوروکې نه ورکيږي بلکې شين اوپه لسګونونورې دانې هم ونيسي داسې داجمل استعداد هم په رزغونيدودی * اجمل ختګ * |
| باور دی چې دپښتو سبابه دګران اجمل له ځپانده استعداد اومينې نه ډيرې پيرزوينې اولمانځنې ترلاسه کړې . * استادحبيب الله (رفيع) |
| اجمل يوسفزی دپښتوبا استعداده ځوان ليکوال، ډيرباتربيه اود ښواخلاقو خاونددی، زه يې وجودکې ډيرصلاحيتونه وينم. اميدلرم چې دده استعدادبه غزونې وکړي زماپه عقيده داجذبه په کې ده زمونږ فرهنګ ته به ډير ستركارونه وکړي. * سرمحقيق زلمی هيوادمل |
| کامې دعلم ،ادب اوسپين ږيرتوب له حيثه ننګرهار ښائسته کړی. مرحوم مولينا‌خادم کامه يونان ګاڼه ،ددې يونان ديوي لوي اودرنې کورنۍ يوځوان غړی اجمل دنزه يې استعداد، پښتو نواله اوايمانداری ستايم ، * اولسې مشرحاجی فقيرمحمد(بايزی) * |
| اجمل يوسفزی له پښتو سره سياسی مينه په وينه کې راوړې اودچاخبره په ميراث کې ورته پاتې ده. خودپښتو ادب فرهنګي پيريان پرې دمولينا‌خادم اوشهيدشفيق دکامې د(قافه) راغلې دي * استادمحمدا صف ( صميم) * |
| اجمل خوندورنشرليکي .شعرهم وائي خولږ،قاطع ، سپيڅلی اومغرور شخصيت لري ، ادبی اوسياسي سرګرمي ورته سکون ورکوي ، * استاد غلام عمر يوسفزی * |

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ خبرې

## تا راته هرڅه هرڅه وويل خو ما هيڅ ونه ويل

په داخه دپاسه دوه لسيزو کې چې زموږ په ګران هيواد تيرشول اولاتيريږي، ګمان نه کوم چې دنړۍ په تاريخونوکې يې بيلګه پيداشي، ټولورنګونوپه کې خپل خپل رخت وښوده اوهغه څه چې دنه کولو اونه ويلووپه کې وشول اوويل شول، قانون اودانسانيت لوړ مقام مات شو دمادي ګټو له پاره اوراواوبه يوځای شول ،سره ټول شنه شول او شنه بياټول سره شول اوپه پای کې همدغه مرکب په افغان مسلمان اولس هغه څه وکړل چې په يوه څنګله کې به هم نه وي ترسره شوي او ښايي په دغه ليکنه کې ترې دحيواناتوکړنه هم ښه وي. خودغه غيرتي اولس داهرڅه واوريدل، وليدل، وزغمل اولاتراوسه هم پټه خوله لاس ترزنې ناست دی ، داټول يې له څښتن تعالی سره مخ کړي دي .

زموږ باوردی چې حق تعالی به ظالمان داولس په وړاندې ژرکوز ګوري کړي .

په درديدلی زړه

ستاسې خوږمن ورور ( خاورې اجمل )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لابه ډیر گلونه واشي په داباغ کې

زه ګران اجمل یوسفزی له دولسو کالو راهیسې پیژنم څومره چې ماهغه لیدلی ،لوستلی اواوریدلی دی نودژوند پرهرپړاوکې مې بریالی موندلی دی ، اجمل په خپل لږعمرکې دومره ډیرکارکړیدی چې ډیروهغو خلکوچې دشهرت لوړوپوړیو ته هم رسیدلي دي نه دي کړي ، دی په یووخت کې ادیب ،د لیکوال ، شاعراوژورنالست هم دی اودسیاست بې کچه مینه وال هم ، دملي خدمت ترڅنګ یې ترډیره حده دخپلې سیمې اوولس خدمت هم کړیدی، دهیواد دننه اوله هیوادڅخه بهربه داسې پښتوخپرونه نه وې چې داجمل یوسفزی شعراویا نثردې په کې خپورشوی نه وي ، داسې کلتوري اوسیاسي ټولنې به هم کمې وي چې دې دې په کې ونډه ونلري دوخت په نبض پوه اودشرایطوپه نزاکت خبردی ، په پیښور ، جلال آباد، کابل ، کندهار، بلخ ، اوهرات کې خوزه دده دمطبوعاتو هڅواوهلو ځلو عیني شاهد یم ، اجمل خپل مطبوعاتي اوسیاسي هویت ښه وځلانوه اوښه پرمخ ، ولاړ حمزه بابا (رح) وایي چې شاعران دپښه کال دمچانو په څیر دي چې په ژمي کې ترې ایله څوپاتې وي خواجمل هغه دی ترننه دپښتو ادب په آسمان ځلیږي اوپه راتلونګي کې هم ترې نهیلي نه یو .

اجمل یوسفزی دهیوادپه انقلابی شیبوکې دملت خواونیوه ، همدلته بری دشعورااوالهام پرښتو خپلې همایونې وزرې وغوړولې اودجهاد مورچل یې په خپلو له ویاړه ډکوزمزمو تودوساته ،

اجمل نوښتګر اوبریمن ځوان دی ، دتخلیق ځواک یې پیاوړی اودکار استعداد اوانرژي لري چې کله دادب په ډګرکې یې تراوسه څوټوکه اثار ټولنې ته وړاندې کړي داداری په ډګرکې هم دبلخ پوهنتون دریاست په څیر مهم اوکاري پوست پرمخ بیولی شي. داجمل داړیکو دایره پراخه ده خوپه پالنه اوپوښتنه کې یې هم بریالی دی ، ژوند یې دنورو ډیروافغانانو په څیر له لوړو او ژورو ډک ، ټول څپې څپې او مداوجذر دی ښایې دژوند ژوند به یې په همدې څپوکې وي .

((موجیم که سکون ماعدم ماست ))

زه په داسې حال کې چې داجمل دفن اوهنر دښاپیرۍ ځواني اوښکلاتانده وینم دهغه دپنځونې ناوې لاپسوللې غواړم .

درنښت اونمانځنه

محمدحسن حقیار

1 – 5 – 2 – 2م 81 – 2 – 1 هه . ل

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اجمل اښك د درد چغه

ماته اجمل اښك يوسفزي يوه مسوده راكړه چې زه پرې څه وليكم ماچې دده دقلم ، زړه اوذهن داتخليق اولوستو نوپوه شوم چې دنن وخت دحساس افغان زلمي په حيث يې دخپل هيواداوسنيو پيښو ،غم ، درد ، فكر او نظرملي وطګني زخمونو اوارمانونوته دالفاظو جامه وراچولې ( وراّغوستلې ) ده ، دفن نقادان به ورته كومه نامه وركوى يانه وركوي زه په هغې بحث كښې پريوتل نه غواړم زه صرف دومره وايم چې دده او زما په هيواد كومه خونړى لوبه اوشوه اولاكيږي ( لوئى خداٴ دې زرختمه كړي ) دهغې ژوبل احساس اوتريخ ژوند تاثرياً دبرداشت دحده وتلاّ داّ نوبې اختياره دزړه براس اودفكر تاوونه ياّ ،په دې مسوده كښې بيان كړې دي او داسې نقش ئي ترنه سازولو كوشش كړې دى چه لكه معاشره ځنګل شوي وي اوانسان خون خوارشوى دى نن دافغانستان دخارې هريو داحساس ،شعوراوقلم خاونددخپل دې لرغوني وطن شخړې اوپيښې دهور طوفان اودوينو ډنډونه په خپل خپل بيل بيل انداز كښې داسې بيانوي چه خپل زړه لږ څه يخ كړي اوددې هرڅه دذمه وارانسان سترګې اوغړوي ، اښك هم دغه كوشش كړى دى اوپه خپل خيال داهرڅه دانسان عمل منلوته تيارنه دى ياانسان ته وايې چه دادانسان كارنه دى دادځنګل دځناورو ( زمرو ، پړانګانو ،ليوانواوګيدړانو ) دخونخوارۍ اوبيوقوفۍ چارې كيدى شي اودغه شان داژوبل ، غمژن ، دردمن، حساس اوغصه پښتون خپلې ننني معاشري اوانسانيت ته په مخ سپيره وركوي چه (داڅه كوئ )

مادامحسوس كړه چه داجمل داتحرير ديوداسې ماشوم دډيرزخمي مجبورشعوربې واكه بې اختياره ساده چغه ده چه هغه كور كښې وهل ، وژل ، لوټل ، په وينو لمبول لمبيدل ، په هور سوزول ، سوزيدل ويني اوددې نظرپه ليدوېې د درد اوغم ويري اوخفګان جذبات طوفاني شي نودخولې نه ناڅاپه څه چغه مغه اوباسي چې څوك ددې خونړي شيطاني منظربنولو ته توجه وكړي دغه وخت داسې ماشوم سره نه وخت وي نه پوهه نه الفاظ خودخولاّ نه څه اوباسې اووئيل غواړي چه داڅه كوئ ؟ ولاّ كوئ ؟ مه كوئ؟

دليكوال زړه اوذهن،لكه زما اوستا اودهرافغان، دا غواړي – چه د( ځنګل دځناورو) دا دزوراوفريب دا دسيساّ زرختمې شي ، نو خپل داتحرير په دې ختم كوي چې دزخمي زمري ( زغم تمام شو) اوپه دواړو( ټولوځناورو) ئې ورغړم كړو .

ولاّ زه وايم چه – خداٴ پاك دې زرهغه وخت راولي – چه ددنيا په مخ دجنت هسي هيواد، اونجيب اولس دهرسړي خورسازشي – اودشيطان انسان دزور ،مكر اوفريب نه محفوظ اوپه امان شي .

اجمل ختټك

2 .... 2 – 4 – 21

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اجمل او ((د ځنګل ځناور))

مخکې مې دهیواد ځوان هڅانداوپیاوړی لیکوال اوشاعر وروراجمل یوسفزی دازمښت ډولۍ ، په نوم دکیسو ټولګه او( رڼې اوښکې ) شعرې ټولګه لوستې ووهغه مهال مې یوسفزی په ذهن کی دیوه ریالیست شاعر اولیکوال په حیث انځوراوه ،او کله چې پروسږ کال همدامهال راته یوسفزی صاحب دخپلې لمړنۍ لیدنې په ترڅ کې وویل داځل یې ویلاړکړی دی چې یوسمبولیك اثربه لیکي اوداآثر به زمونږ ددغې ځوویشت کلنې غمیزی دپیل دځینو لاملونو یوانځور وي که رښتیا ووایم په څو دلیلو نو مې باور نه راته :

لمړی داچې یوسفزی ډیرځوان اودلږې تجربې خاوندو دویم داچې که څه هم په دې وروستیو وختونوکې له بد مرغه زمونږ ځینو ، ځینو ایله دګوتوپه شمیر ځوانولیکوالو کې سمبولیزم ته کږون پیداشوی دی، اوپه دې برخه کې یې ټولنې ته ډیرښه اودیادوړ اثار وړاندې کړي دي خوبیاهم اوس اوس په پښتوژبه کې سمبولیك اثار

دګوتوپه شمیر دي چې داخپله یوه ستره ادبي تشه ګڼلای شو ښائي یولامل یې هم داوي چې زمونږ په ادب کې سمبولیزم یوه نوې ښکارنده ده داخوښکاره ده چې دلیکوالو هم ورته نوی پام اوښتی دی نوځکه به لیکوالوته ستونزمن هم ښکاري ،

اوبل دلیل یې داوچې ښاغلي لیکوال ، مخکې له دې څخه کوم سمبولیك اثرنه وخپور کړی اوکه کومه سمبولیکه لیکنه یې کړې هم وي نومانه وه لوستې اودغې لارې ته یې ډیرنوی اوتازه دمه رادانګلی و،

خویوکال وروسته یوسفزي صاحب خپل یوسمبولیك اثرراته راوړچې دادی ستاسو په لاس کې دی یوسفزي نه یواځې داپه زبه ورسوله چې سمبولیکه لیکنه هم کولای شي بلکې په دغه ډګرکې ښه تورزن هم دی ،

اوزه دښاغلي دامقام دخپل سمبولیك ادب دغنا لپاره یوښه زیری ګڼم اوترځنګ یې ستایم ،

( دځنګل ځناور) لکه مخکې مې چې وویل زمونږ دځوویشت کلنې نادودې دپیل دځینو لاملونویوښه اوپرځای انځور دی ،

لکه ګیدړځرنګه اوولې دې ته هڅیږی چې لیوان اوپړانګان باید یوبل سره لاس اوګریوان کړي ،

زه نه غوارم چې دلیکوال په دغه ښکلی اثر ډیرې خبرې وکړم خودومره وایم چې په دغه اثرکې دلیکوال ژبه ډیره خوږه ده په تیره کله چې زمونږ دکلیوالي اصطلاح ګانو اومتلونو مالګه ورسره ګډیږي نولایې خواږه ډیرشي ،

لیکوال هڅه کړې چې سمبولونه پرځای اووړوکاروی لکه دګیدړ سمبول اودهغه کرکټر چې داپه خپله ډیرپرځای راغلی دی خوځینې وخت لیکوال نه ځینې سمبولونه تتیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله داچې دکیسې پیل ته که راشو نو که دکیسې پیل ددریو پتنگانو له الوت نه شوی وای دابه ډیر په زړه پورې اوشکلی پیل و، داځکه چې دپتنگ ، مځکې ، لمر ، وریځ اوگل ترمنځ مخکینی بحث که څه هم ډیرښکلی دی خوبیاهم ددغې کیسې دهدف سره هیڅ ډول تړاونلري اوداپه خپل ځای یوځانگړی بحث دی ،

خودا دوه نیمگړتیاوې داسې نیمگړتیاوې دي چې دکیسې دښیگنو سیوری پرې اوچت ښکاري زه ښاغلي لیگوال ته ددغه په زړه پورې اثردخپریدو مبارکي وایم اوهیله لرو چې په راتلونکي کې هم ښه اوغوره اثارتېولنې ته وړاندې کړي .

په همدې هیله

درنښت

عارفه عمر لور

24 / 4 / 2 00 2پیښور ارباب روډ

ښاغلی درانه او فاضل استاد ناگار راته د یو لیك په ترڅ کې داسې لارښونې کړې دي چې البته د همدې لارښوونو له مخې مې ځینې توري ترې ویستل ،

گرانه اجمله !

کیسه مې ولوسته –

په ښه روانه اوله فن سره په مناسبه ژبه لیکل شوې، دخپل نوعیت له مخې بشپړ نوښت لري، ز ما په فکر په پښتوادب کې داسې لیکل ندي شوي اویاماندي لیدلي ،

هغه څه چې پدې اثرکې دډیرراښکون لامل گرځي ، هغه دولسي ویناواومتلونو پر له پسې اوډون دی ، چې پرې استناد شوي اودومره په ذوق تړلي شوي اوارتباط ورکړل شوی لکه کومه ښکلې مسلسل غزل .

کیسه ړومبۍ ډیره سمبولیکه اوبیاورو،ورو پردې څیروي

ښکلي پاراگرافونه هم لري ، لکه داوبو پرمخ نقشې ،یا ، گل بې لمره نه غوړیږي .

ستا وعده زما توبه دواړه دلبره

لکه نقش د آب نه لري وثوق

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو هغه څه چې پر ما تروه ولګیده هغه بربنډه ژبه ده که څه هم په اوسني بهیرکې خو له شعره هم جامې وتې دي، ابیلګی ....... ستا د لاتخلیقي نوښتونو په هیله (ناګار)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لمړۍ برخه

په یوه ځنګله کې یوډیر ښکلی اوتازه ګل و. یوه ورځ دې ښکلي ګل له ځانه سره وویل دادومره ښکلا ماته چا را کړې ده ؟ هرڅه فکر به یې چې کاوه ځواب یې نه شو موندلای.

ددې لپاره چې پوه شي، له ځمکې یې پوښتنه وکړه : ته پوهیږې چې داښکلا ماته چا راکړې؟

ځمکې په ډیرې ځان ښودنې اوغرور ځواب ورکړ: ښکاره خبره ده چې مادرکړې .

ګل : اوهغه څنګه ؟

ځمکه : ماستایودانه تخم ته په خپله غیږه کې ځای ورکړاوپه دې سپیرو خاورو کې مې ستا پالنه وکړه او دې ښکلا او ځوانۍ ته مې ورسولی .

ګل : وموسیده اوله ځمکې یې مننه وکړه مګر په دې پوهیده چې ښکلادې نه ده ورکړې اویواځې یې په خپله غیږه کې رالوی کړی دی .

وریځې له آسما نه و غړمبیدې : او ګله تا رښتیا وویل ځمکې یواځې تاته ځای درکړی، پالنه اوښکلا مادرکړې، نه ګورې چې هره ګړۍ دربانديې اورم مخ دې مینځم اوتازه کوم دې .

ګل له ځان سره فکر وکړ اوویې ویل : وریځ رښتیا وویل مګر کله چې یې په خواکې زیږو، شاړو او بدبویه وښو اوکبلوته پام شو وریځ ته یې وویل: ( که ته رښتیاوایې نوولې دغو زیږواوشاړو ته ښکلا اوخوشبویي نه ورکوې ) وریځ بې ځوابه اوچوپ شوه .

په دې وخت کې چې داتوله کیسه لمراوریده غږیې وکړ:

ستاپه مخ کې زماوړانګې دي څکه دومره ښکلې یې ، ګل ویل ته خومې کله، کله سیځې اوستادلاسه مړاوی یم .

لمرهم خوله پټه کړه .

شیبه لاتیره نه وه چې پتنګ راغی اودګل پرمخ کښیناست .

ګل خپله پوښتنه له ده هم وکړه :

پتنګ : وخندل ( ښکاره خبره ده چې داښکلا چادرکړې؟

ګل : په یوه ساوویل : ووایه ، ووایه ؟

پتنګ : لوی اومهربانه څښتن .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګل : دابې ډوله نوبيا چاپيداکړي؟

پتنګ : هغوی هم څښتن تعالی پيداکړي ، ته يې دمينې او محبت له پاره شين کړی يې اوهغوی يې د دوائي او د نورودخوراك له پاره .

ګل ايله خپل ځواب پيداکړاوله پتنګ نه يې مننه وکړه .

مګر ليوه بيا په دې خبرونه پوهيده چې چاپيداکړی، دځه له پاره پيداشوی اوځه بايد وکړي.؟

شپه اوروځ يواځې دخپل نس په ډکيدواو تشيدوپوهيده اوبس .

خوګيدړ يوه ورځ وليدل چې ( دری پتنګان چې يويې ژيړ، يوسپين اوبل سور ويوځای والوتل اوپه يوه خوله يې ترانې ويلې چې دباران ځاځکې شول درې واړه دژيړګل خواته ورغلل ژيړ پتنګ پرې غبرګ :

ای ژيړه ګله ! موږپريږدې چې دباران له ځاځکو نه ستاپه پاڼوکې ځان پټ کړو.....؟

ژيړګل : يواځې ژيړدې راشي .

بيادريواړوالوت پيل کړ اوسور ګل ته ولاړل هغه هم وويل ( يواځې سورته پناه ورکولای شم ) ، بيا دريواړه والوتل اوسپين ګل ته ولاړل

سپين ګل دريواړه په خپلو پاڼوکې پټ کړل. او ويې ويل ماته ژيړ،سوراوسپين ټول يوشی دي .

بيانو ګيدړله افسوسه سروښوراوه چې په پتنګانو کې هم دومره يوالی شته خوپه موږکې ............

هم داورځ شوه دګيدړانو مشربه تل دځنګله په يوغارکې پروت اوفکربه يې کاوه چې په دا دومره لوی ځنګله کې دوی ولې دومره بې برخې ، خواراوذليله دي. ترڅوبه دنورو لاسپوڅي وي اودهغوی په پاتې شونو به دخيټو دوزخونه ډکوي.

دورځونه يوه ورځ وه کيدړلادهمدې انجړې سرلټاوه چې دځنګل بادشاه ټپي په غارورننوت. کيدړچې زمری په سروويونوکې ليت پيت وليد . واراوپاريې خطا اواريان دريان شو اولکه دشوې پاڼه په ريږديدوشو. ګمان يې کاوه چې ګوندې پاچايې دسياسي فکرنه خبرشوی وي په درنګ شيبه کې بيرته لړشانتې سااوصورت شواو دځان سره يې ويل چې ماخوتراوسه خپل فکر له ځانه سره ساتلی اوهيچاته مې دپاچاپه خلاف سياسيی شعورنه دی ورکړی .

خاموشي لوی کمال دی په همدې لنډو شيبوکې زمری دګيدړخواته رانږدې شوترڅنګ يې پريوت اوګيدړته يې وويل ( غره کې مې په ښکارپسې ځغاستل چې له ګرنګه راپريوتم . ځرمن مې ځوځايه شکيدلې اوګمان کوم چې هډوکې مې هم مات وې ايله په شواخون مې ځان ترديې غاره راورساوه .مرم نه پاتې کيږم ته زرلاړشه اوبچی مې راخبرکړه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وروستی دیدن او خبرې ورسره وکړم. ګیدړکې ایله ساوچلیده اوشکرېې وویست چې زمرى یې له سیاسی فکره خبرنه وفکرېې وکړ ویل یې همدادې وخت دی یوه شیبه هم ضایع نه کړې ګوره بیابه لاسونه مروړې اووخت به تیر وي،ښه طلایې چانس دی .

له خوشۍ ګ یې دوه، دوه اچول ټول ملك راته میدان دی. سروخت دی په تللیو اوبوپسې بیل اخستل بې ګټې کاردی. ښه فکر پکار دی چې سبا ارمان ونه کړم. پاچاخوهسې هم فیصله دی .

له دغه لنډکې فکرنه وروسته یې بیا غارته وکتل پاچاپې هوشه اوویده شوی و .

ګیدړدغار خو له ورو، ورو په لوټو، ګټو پټه کړه اوپه پوره دقت او فکر روان شو،چې څه بایدوکړې دخوښۍ یوداړچینګی یې وکړ خدایزده څه یې کرل اوریبل په زړه یې تیریدل ، چې بې زړه خلك هیڅ وخت نه بریالي کیږي. دځوانۍ ژوندبایدغنیمت وګڼل شي اوتنبلي خودټولو بدبختیو مورده کله به یې ویل خپل راز له ځانه سره وساته بیایې ویل دګور شپه خوهسې نه هم په کور کیږي نه اود خپل فکر آس یې دلیوانو په خوازین کړ.

دلیوانومشر ته په ډیرې عاجزۍ اوکمینۍ لاس په نامه ودرید. زموږد خوارانو بیوزلانو اوبې کسو مشره زموږ غمخواراو دسترګو توره اوبیایې خوله نوره هم پسته کړه (( له تاقربان شم )) زموږدسرتاجه ، موږدی بې له تانه شو . موږ خوتل ستاسونمك خوړلی ، تاسې زموږ درزق وسیله یاستئ که ستاسې پاتې شونې نه وای زموږ دتومنې ټغر به وختې ټول شوی وای اوریدلي به مووې چې دتمه کوونکي په غاړه مرییتوب رسۍ پرته وي . موږ خوتل ستاسې غلامي دسرپه سترګومنلې . موږ ته مومورویلي (( دلیوانوتل احترام کوئ هغوی ډیرزړه سواندي اوموږېې تل احسانمند یو. زه دموروینا اوستاسې ښه نه شم هیرولای .

وایې دخولې اوزړه ویناچې یوه شي نویارانه ترې جوړیږي اوزړه چې مین شي ښایست نه غواړي .

مجبوره یونن څکه پاچاصیب ستاسې خواته راغلم . غواړم چې پس له دې خپل فکرونه سره یوځای کړو اوداسې یوه لارپیداکړوچې دنورودغلامۍ نه خلاص شو بیاموږ پوهیږو اودځنګله پاچاهي .

لیوه دګیدړدې نااشنا خبروته غوږ ، غوږ اولاس ترزنې ناست ود(( پاچاصیب )) په ټکې سره یې ټکان وخوړ خوله یې جوړه کړه چې ګیدړته څه ووایخو ګیدړخوله نوره هم چینګه کړه .

ګیدړ :ته به وایې چې ښنګه په وړه خوله دومره غټې خبرې کوې زموږ دردمن اومیړنیه ! اصلي اومهمې خبرې نه راځم .

ځوورځې کیږي چې دځنګله مستبد، بوډااوځان غوښتونکی پاچامړشوی ، مادمشرانو نه اوریدلي دي چې خپل سرپه خپله نه خریل کیږي . په اتفاق اویووالي هرناشونی کارشونی کیږي،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوړهمت غرونه سوري کوي اوديوه لاس نه ټك نه خيژي زه وايم دغه منصب تاسي سره ښايي اواصلي وارث هم تاسي ياست ځکه چې په موږ غونډي خپلو کشرانو ډيرترحم کوئ موږ خوستاسي سره يو، پاتې شول دانورواړه دوی هم څه نه شي ويلای موږ چې ستاسې په خدمت نه شرميږو نور به ولې بغاوت کوي اوکه چاوکړ بيانو پيريانوته غزنی څه دی داسې به يې ورك کړوچې ثوك يې په بوی هم پوه نه شي .

تاسې خوبه اوريدلي وي چې وايې دډيروامساديوه پنډکيږي،خبره ديووالي ده غړوکړه موږ ټول ترتاقربان يو .

ليوه هم فکرواخيست، لومړی يې پرزړه شول چې دخپلې برستنې سره پښې غځول په کاردي. دفيلانو سره ټانټې ژول سخت کاردی . خوداسې ښکاري چې دپاچانوم ترې هرڅه هيرکړل .

ليوه ، دگيدړمشورې خوپه رښتياراته دزړه سوي ښکاري ښه فکرېې وکړ کړې خولې خوپه سوك سميږي ، دانورټول خو پريږده ، پړانگ خانه خراب سره به څه کوو. هغه خو موږ يوه شيبه هم نه مني .

بيابه دگيدړپه ياری شکمن شوويل به يې دايلني مارپټ چيچل کوي هسې نه چې دگېدړمينه دخره لته نه شي بيايې وويل دغور وړخبره خوده ښه موقع ده نور لکه چې موږ دغلامۍ نه خلاص شو دبخت پچه مو ختلې ، رښتيا که داټول لره کي په موږ پسې ودريږي پاتې يو پړانگ شودهغه به هم څه چاره ، ماره وکړو.هر کارپه ميږونوکيږي دگيدړخوارکي به څه نيت بدوي ، توکل نر دی اونديښنه ښځه هرڅه چې راپيښ شول له پيښې خوبيا تيښته نه وي .

بيا ليوه په ډيردرناوي گيدړته له دغې همدردی او غمخواری له وجې کورودانی ووايه .

گيدړ: ( هم سروښوراوه ) نه نه صيب داڅه مانه نه لري که موږ له واقعيت نه سترگې پټې نه کړو ستاسو په موږ ډير حقونه شته چې هغه په داسې وړو ، وړو منډو تړړو باندې نه پوره کيږي،

داخو زموږ خپل دگټې کاردی ټول په يوه کشتۍ کې سپاره يو،

صيب باور وکړئ چې تيره شپه مې په خوب کې عجيبه شيان ليدل، اوله دې سره چوپ شوه اوددې سره دليوه سودانوره پسې زياته شوه .

ليوه : تاسې ونه ويل چې څنگه خوب موليدلی ؟

گيدړ : يوعجيبه اوډيرنااشنا؟

په دې وخت کې يوه ډ له ليوان نورهم وارخطاراغلل اود مشرسره وپسيده دگيدړپه کونه بيا ټنگارشو ،

وايي چې دغله ځای په غره کې نه کيږي ، واراوپارېې خطاشو، سم له واره يې بيا په زړه کې تيرشول لکه چې لاړې په کې دکم عقلو ياري دخره سوارلي وي . يوځل يې گڼلي وه چې دمېږه يوه ميړانه تيښته ده بيا يې ويل چې دغيرتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرگ تل دبې غیرتو دلاسه وي ، اوس خوکیوتی یې ژرېې خپل سااوصورت سم کړ ځان یې په دې ډاډه کړچې له غلامۍ آزادیدل اوقدرت ته رسیدل خوډیره سربښندنه غواړي ، دشوقدرشپه په شوګیرلیدای شي ،په دي لاره کې خوهره څه راځي اوس خو په سین راګېشوی یم اوسرمې په لاس کې نیولی .

مشرته یې ځان بیادیوډیرنږدې خواخوږي په شان نږدې کړاو پوښتنه یې وکړه .

ګیدړ : خیرت خودی څګنګه بې چورته شوې جناب ؟

لیوه : خیریت خونه دی .

ترخوچې یې له یوه ساړه اوسیلي وروسته خبره پیلو له ګیدړبیاپه ځان وخوړه .

لکه چې خبره په تاکې وي یاپیره استازه !

لیوه : ( اسویلی وکړ ) هغه څوك زموږ دوست دی چې موږ ته سمه لاره ښایي له تاڅه پرده ته خوزموږ دوست یې دوی راته یو نوی اوخواشینونکی خبرراکړ .

ګیدړ : هغه ځنګه جنابه ؟

لیوه : زموږ یوډیرزړور اوغاښور سرلښکری ملګری چاوژلی دی .

ګیدړدمکریوځوویش اووای وکړه تندی یې تریونیولی واوپه زړه کې یې له خوښۍ ګوړې ماتولې ویل یې ماموته بیادې موته اوس خو له ټولو ښه شوه تنورښه ګرم دی څومره تیل چې پرې شیندې همدایې وخت دی. تل مومږ خواران داړلي یو واروکړئ دعمرونو کسات به اخلم دزرګرسل اوداّهنګریوزه به موهم خوښ شم .

ګیدړ : جناب ! زه خوهمدغه غم ژاړم چې ولې دومره تیري په موږ خوارانوکیږي .

ټول لیوان یې ښه ځان ته ځیرکړل .

ددې په ځای چې دغه ظالمان په موږ لورونه وکړي دکور ډوډۍ اهل اوعیال غمخواري مووکړي وهی ، ټکوي اوآن وژني مو .

لیوه : ( بیالیوه نوروته مخ کړ) څه وکړو؟

ټول چوپ ناست وو. له لږې چوپتیاوروسته .

یوه کړه: څګه چې تاسې وایاست، غوښتل یې چې نورڅه هم ووایي خو ګېدړته یې پام شواودنورڅه ویلویې ډډه وکړه

په ځینو ګیدړښه نه لکېده پوهیدل چې هډه اوګني ، دګیدړاو لیوه دوستی ناشونې ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوګیدړبیاټول ترسترګولاندې ځارل .

یوه بیا کیدړته مخ کړ :

ستاسې څه نظردی څه کول په کار دي؟

ګیدړچې یوه څه نقشې داوبو پرمخ جوړولې اوورانولې اوس ددوی په بې عقلۍ یې ښه باور پوخ شوچې نقشې یې داوبو پرمخ نه بلکې دکاغذ پرمخ دي اوژربه عملي هم شي .

ګیدړ : له موږ خوتاسې په دې کارونو ښه پوهیږئ خونن یوه مشوره زه درکول غوړم ښه دی چې دانورهم ناست دي موږ خواران به ترکومه ذلیل یوڅه غوري به کوم موږ خوهیڅ نه شو کولای مګر تاسې ،یوقوت یاستۍ لمرپه دوه ګوتو نه پټیږي .
که څوك مومني اوکه نه هغه بیله خبره ده اوس خوموږ هم درسره ولاړیو ترڅوبه تورته سپین اوسپین ته...اخترکومه زغم اوصبرباور وکړئ ( په یوڅه ژړا) نورمودصبر کاسې ډکې شوي هره ورځ په ویراوغم شپه کوو .
په کومو چې مولاس بردی خوټول له موږه ویریږي او له کومو سره چې موزور نه رسیږي نوڅه کولای شو .
ګیدړ له ځان سره ویل ترڅوچې ړشتیاراځي درواغو به کلي وران کړي وي اوغږیې کړ دقوم سپکه خولوخې غوښتې وه چې سریې په اوبوکې وچ شو،تاسې لوی قوم یاست یوهمت په کار دی هیڅوك به مخه ونه نیولی شي ؟ په حرکت کې برکت شته ګل بې لمره نه غوړیږي اونیکمرغي بې له مینې منځته نه راځي اوس داوخت راغلی چې ټول بايد یولاس اویو موټی شو .

ټولومشرلیوه ته کتل چې څه وایي !؟

ګیدړ : بیاتوکل کړ: زه خو کمزوري نه یادوم هغه خووړي چرګان دي هروخت چې دانې وشیندوراټولیږي له هغوژاړم چې په رډو ورته ګورو اوهیڅ کولای نه شو .

مشرلیوه ته دګیدړ نظریوډیر خوند ورکړی واوهرڅکې ته ځیرلاس ترژنې ناست و .

ګیدړددې له پاره چې ټولو ته ځان ډیرنږدې اودوست وښیې کړه یې : زمازړه تاسې ته راته څکه پښودلته راوستم .

یوه بل لیوه : خبرې ډیري سریې یودکارپایله په څه وي ؟

مشرلیوه غوښتل چې په دې مسایلوکې له ګیدړسره مشورې وکړي اولارې چارې ورته وښیي نو ټولوته یې وویل بیا ګورواوس ځئ .

ګیدړهم چې دلیوانو دبې عقلۍ پوره جاج اخیستی و دبیا لیدو په هیله یې ځان له لیوه څخه فارغه کړ څکه چې کارونه ډیراووخت لري.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه برخه

بیاگیدړ له ویرې شل زړوج یوکړل اوپه منډه منډه ، دپړانگ په لورې روان شو .

داچې لیوان یې دخپل مکر په جال کې راوستي ووډیر خوښ ښکاریده او له ځان سره یې ویل ستاسې څه اوڅه وکړم . تل موږ ستاسې تورمخو نه په عذاب یونن به موزه خوښ شم بیا به یې دخپل سرسره لوبې کول راپه یادشول لږ به ټکنی شو .

اوپه زړه به یې تیرکړل :

په جهان د ننگیالو دي دا دوه کاره

یا به وخوري ککری یا به کامران شي

بیا به پوره ډاډمن شو ، دلیوانو بې عدالتیو ظلمونو اوتیریوبې

په زړه اوربل کړی و زړه یې تناکې و . په پوره کچه یې ترې زړه تور شوی و، چې دسپینیدونه ؤ اودالمبې ترهغی نه سړیدې چې دوی یې تباه اوپه مرگ جاروکړي نه وو، ښایي په ځنگله کې پردوی نور ډیرغښتلي اوقوی ځناورهم وومگر هرسړی خپل تربورلري اود دوی تربوران لیوان وو، ځومره رخه یې چې له لیوانو راتله له بل چانه راتله .

په همدغه گوړه ، گوړه یې خو له خوړیده راخوړیده چې دپړانگ خواته وورسیده .

دپړانگ په لیدو سره یې کلك ټکان وخوړپه تیره بیاچې لا پړانگ غوړونه دده په خواشك کړل له هیبته یې پرلینگواوبو لاړې وکړې ، بله لارنه وه څه یې کړی وای دخپل ارمان دپلي کیدو اوآزادۍ له پاره یې سرپه لاس کې نیولی واوخپل زړه یې ډیر غټ کړی و او هر وخت به یې ویل که رنگ دې دگیدردی زړه دزمري کړه اوهمدالامل وچې تراوسه په بره روان و .

او له هغې ورځې راپدې خواځان ورته پوره کره ښکاریده چې ښځې زمرۍ ته یې دهغی خپل تصویر داوبو په چینه کې وروښوده او ورته ویل یې چې زمری له تاپټ له دې لاندې زمرۍ سره مینه کوي اوهغې دهمدې خبرې په اوریدوسم ځان دبلې زمری پسې اوبه ته وغورځاوه ، بیایې چغې وهلې اوده ورته له پورته رډرډ کتل خندل اوویل یې (( وه گنجی خراړې دیو گوزاره ژلاړي )) .

په دغه شیبه کې یې یوخدای ( ج) له زړه خبروخوپه ښکاره ډیر زړور پړانگ ته ورنږدی شو .

پړانگ هم دخپل شهزاده اواصل خوی له مخې ورته ببرنه شو اوجرات یې ورکړچې څه غواړې .

گیدړ پړانگ ته نږدې کښیناست له یوه داړچینگي سره سم یې دمکرپه سلگیو اوستینولاس پورې کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړانګ چې ډېرزړه سوانده اومهربانه و، ددې سره سره چې دګیدړانو دمکرونو اوتیرایستنو هغه کیسه ورته یاده وه چې یوه ورځ دځنګله ټول اوسیدونکي مخ کې وواو یونااّشنا اوبې رقمه شي ورپسې ځغاسته اوحتی زمری اوپړانګ هم له دې ویرې چې دابه ډیر قوي شی وي په رښتیا چې له تش ټوپك دوه کسان ویریږي نورله دي ویریدل اوداله هغوی خو له خپلې ویرې ورپسې وکله چې اوبه مخې ته راغلې ټول پوریوتل ، ګیدړ مکارچې په اوبو ورګډشوه دڅرمنې رنګ یې اوبو یووړ نوچې نوروبیرته ولیدل چې ګوري ګیدړدی یواځې یې غوښتل چې دخپلې څرمنې په رنګولو پرنوروپاچاهی وکړي هماغه وچې ټول ورپسې راوګرځیدل او....... .خوبیاهم د پړانګ په زړه کې تیرشول ،

داچې دې دومره زړه کړی اوترما راغلی هرڅه کار اوپیښنه چې وې په پوره ملا تړ اولورونه به یې کوم تیرپه هیر .

په دې وخت کې ګیدړ بیاپه ستینولاس پورې کړ .

دپړانګ سوداوارپه وارډیریده اوسوچونوپه سراخستی وچې داڅه وایي .

ګیدړ یوڅه پوزه کش کړه اوبیایې په نیولي آواز چې ورو،روبیا صافیده پیل وکړ .

ګیدړ : زمونږ دسرتاجه خدای مودې بې له تانه کړي او تل زموږ دسرسیوری اوسې ، موږته دمور اوپلاره مهربانه پاچا !

دپاچادتوري په اوریدودپړانګ غوږونه بیا شك شول اوبیایې اندیښنه شوه چې دابلامړی څه وایي زه لیونی یم اوکه په دې څه شوي دي .

بیایې کړه : چل څه دی ؟

تانه خیرات شم ټول ځنګل خبردی. ګیدړله خپلو ټولو مکرونو نه کار اخیسته ددې له پاره چې موضوع مهمه اودپړانګ احساسات راوپاروي غوڅه خبره یې نه کوله .

دپړانګ زړه بیا تنګ شو .

پړانګ : وایم ځنګل په څه خبردی .

ګیدړ : تاته لوګی لوګی شم .

پړانګ : په همدي خبرې ( لړپه قهر )

ګیدړچې پوه شوچې پړانګ اوس ښه په احساساتو کې راغلی اوهم ورسره جوخت ګیدړ یوڅه ویرې هم واخیست دپړانګ ټول ویښتان زیږه شول بریتان یې هم شك شول اودسترګو کاسې یې سرې سرې شوې .

ګیدړ چې هرڅه په پوره ځیرسره څارل واراوپاریې لړ څه خطا شو خوژرېې وویل ماخوب لیدلی ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



))تعبير يې کړی ماپه ظالمانوبه چپه شي

چپه کاکل مې خوب کې دجانان ليدلی دی((

له دې سره پړانګ لږ څه غلی اوپه فکرکې کيوت چې داڅه وايي دخوب يې زما سره څه اړه ؟

ګيدړبياپه ژړاشو

په دې وخت کې دپړانګ زړه ډيرنرم شوی واوفکر اخيستی وچې ګيدړخوهسې نه دی راغلی حتمې يې خوب په ماپوري څه اړه لري .

اوپه دې کې هيڅ شك نه وپړانګ چې دګيدړسلګۍ وليدلې دهغه سترګې هم له پريشانی سرې شوي وې ،

دګيدړپه سرېې لاس راتيرکړاوبيايې ورته وويل : په ژړا اوسلګيو هيڅ نه کيږي ته خوروغ جوړيې نه چاوهلی يې اونه بل څه يوخوب دی ليدلی دومره ژاړې زه هره شپه اوروځ خوبونه وينم مګرنه ژاړم اونه خاندم اوکه نه بل څه دپلو لاندې مولۍ وي نوبياخوزما خبرول په کار دي . ځکه دپاچادغږ په اوريدو پړانګ حيران و .

ګيدړ پوشو چې پړانګ پرې اوس ښې شيدې راپريښی دي اودهرڅه منلوته يې تيارد‌ی اوپه اسانه يې په خپلو لوموکې ښکيلولی شي نو کړه يې :

زموږ دځنګله اوزړونو سرداره ! سل دې ومري خوسردې نه مري ماخوب ليدلی چې دځنګله پاچامړشوی وې پوره ګډوډې او پوره خپل سرې وې تورزن او ........... په کې معلوم نه وې دلته پړانګ بيا ببراوګيدړ ته غوږ شوچې داحرامي څه وايي .

ګيدړ : ته دې ژوندی وې ژاړم په دې چې وينم له تا سو پرته دا نور تورمخي داسپين سترګي ، بی شرمان ، کاسه ليخي ، سپي ، ليوان او ............ موږ ته پريتې تاووي دومره خولاېې کسه نه يو .

دلته ګيدړ لږغلی شوښايي غوښتل يې چې پړانګ څه ووايي او يايې دخوب دشاربنې له پاره ليوالتيا زياته کړي اوپتيلي يې وچې همدادې وخت دکه شفتلوکې واښه کړي ،

پړانګ : هسې څه خواره بې عقله داخوي خوب ونو بياولې دومره پريشانه يې څه په ويښه خودې نه دی ليدلی چې ژاړې؟

ګيدړ : ( بيا دمکرنه شونډې ډډې کړې اوپه ژړغوني غږ يې کړه ) زماپه خوله نه راځي چې يې څنګه تاته ووايم

پړانګ ډيردقيق دګيدړ خبروته غوږ و دګيدړدې وروستۍ خبرې بياپړانګ دسودااواندېښنو په سيند لاهوکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړانګ : څه دې په خولې نه راځي زړور وايه په کورمی رانئوتی يې ويريږه مه سپينې سپينې وايه که زما دزيان اومرګ وي هم ؟

ګيدړ : نه قربان وايي دوست به دې وژړوې اودښمن به دې وخنده وي نه ويريږم زه ځان ستاسې خواخوږی بولم تل موستاسې دسيوري لاندې ژوند کړی تاسې دخپل ځان بولم ځکه درته راغلم ګنې ماڅه په مارپښه ايښې وه ، چيرته عزيزخان چيرته ملنګ عبدالرحمان .

پړانګ : ( دپړانګ چې سودابنده وه خبره يې ورغبرګه کړه ) همداسې مې دروبو له، موږ خوهره شيبه په نيشو اوتماشو کې يو يواځې دځيتو په ډکولو اوتشولوښه پوهيږو نورهرڅه رانه هيردي ستاسې غوندې خواخوږو دوستانوته ډيره اړتيالروچې کله کله موله يوڅه خبرکړي .

اوس نوراته حال وايه درسره ژمنه کوم چې هرڅه به ستاپه خوښه اومشوره کوم .

رښتيا چې دخوښۍ شيبې لنډې وي . ګيدړ چې داهرڅه دهمدې خبرې داوريدوپه هيله کول اوس نوپوره دخپلو کړونو په پلي کولو کې ځان ورته بريالی اوهوساښکاريده

ګيدړ : زموږ دزړونو سرداره : ماچې کوم خوب تاسې ته ووايه دهغه تعبير رښتياشی .

پړانګ : ( بيابېرشو ) اوهغه څنګه ؟

ګيدړ : صيب څوورځې کيږي چې ځنګل بې پاچادی زمری له کوم پاڼه راغورځيدلی اومړشوی .

پړانګ : داڅه وايې ؟

ګيدړ : صيب تاسې راباندې په قهر نه شئ هغه خپل کبر وخورړدکبرجام نسکوروي په تيرجشن که تاسی ته به يادوي هغه کارغه ته دشاهۍ تاج ورکړچې ورپه سريې کړي په داسې حال کې چې داحق ستاسې وهماغه ستاسې صبر وواهه اوهلاك شو، نه يواځې تاسې بلکی موږ ټولو ته يې ډيربدنسبت کړی و هماغه زما خوب کټ مټ رښتياشوی تاسې چې اصلي وارثان ياست خبرنه ياست مګر ماته دژړا اوتاسې ته ښايي دخندا خبره داده چې ليوان غواړي پاچاهي اعلان کړي .

پړانګ : ( اوچته ودريد ) داسې به نه وي ؟

ګيدړ : که زما په خبرو موباور کيږي همداسې ده ، ژربه يې واورئ .

پړانګ له ډيره قهره توراوشين شواولکه چرسي سم له واره يې دسترګوکاسې له وينو ډکې شوې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګيدړ دپړانګ حالت ته کتل بيا ورخطا شوچې اوس سرخوړلی نه شي ژربې لاړې تيرې کړې اوپړانګ يې مخاطب کړ :

جناب سردارصيب :

تاسې وارخطاکيږئ مه دادهغوی جهالت دی امانت ځمکه هم نه خيانتوي داخوستاسې خپل حق دی مااوريدلي دميږي چې اجل راشي وزرې وکړي ، بيا اخترخوپټ ميږه نه دی حتمي دبازله ځالې بازپاڅيږي ، دوی په ځان خندلي دي اوخدايزده څه يې خوړلي چې نه يې هضميږي هرڅه په يوه فکر اوتدبير کيږي بل هغوی څوك مني په ټول ځنګل کې له موږ بل څوك خواراوذليل نه شته تاسير دې زموږ له سره کم نه شئ که موږ مړه هم کړي خو مشري به يې ونه منو، او نه به له موږ ښه ورځ وګوري بيا ستاسې دعاپه کارده که نورهيڅ نه وي غلچکي کوزارونه ها، ها، ودې، دې خوبيا موږ ته پريږده کارغه وې دزانې مزل کاوه خپل يې هيرکړ ددوی پوره راغلي ده .

پړانګ دګيدړخبرولړلړ سوړکړاوله ځان سره يې فکر وکړ چې په دادومره لوی ځنګل کې بل يوداسې ميږه پيدانه شو چې اوس ليوان راپاڅيږي اودواګاوسرداری شوق کوي په رښتيا چې وزرې يې کړي اوډيرژربه ترې سرونه غوڅ کړم چې بيادچاسره څه چې په زړه کې هم داسې خوبونه ونه ګرځي دومره لويه سپك نظري ( !؟ )

ګيدړ چې په دې پوشو چې اوس په پړانګ لکه يوماشوم لوبې کولی شي نو ورته وېې ويل :

))ستاسې له پاره دادومره دسوداخبره نه وه موږ ته د انديښنې وړده ځکه موتاسې خبرکړئ اوس نولکه غوږ ته لاس وړل دې هيڅ انديښنه مه کوئ اوس يوفکر په کاردی اوپوخ تدبيرداسې وګنئ چې هيڅ نه شته زه به ستاسې له خوا ټول دځنګل اوسيدونکي راټول کړم او تاسې به دواګوپرتخت کښينوي ، اوددوی خويوهم پريښودل نه دې په کار چې بل ته اوبه ورکړي بيالړ چپ شوچې پړانګ څه وايي . ماخوهرڅه اوس دړې وړې کول خوستامشورې راته په تول پوره ښکاري ، هرڅه به په خپله اوپه يوه فکرسم شي، داچې تاپرځان دومره تکليفونه تيرکړی اوزه بی خبره دي له دومره لوې پيښې خبرکړم اوس نو ستاويل اومامنل .

دوه مخی ګيدړچې پوره ويره ورسره وه پړانګ ته يې ويل (( تاسې هيڅ تشويش مه کوئ تاسې اوس آرام وکړئ زه ځم حالات څارم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريمه برخه

ګيدړبيا په مکردليوانو خواته ورغی ګوري چې دځنګله ټول ليوان راټول شوې کله چې دی ورننږدې شواودمشرليوه سترګې پرې ولګيدې :

سترګې مې ستا په لور ځلور شوې

ځلوراته شوي اته شپاړس شوې مينه!

له ځايه اوچت راولاړ شواودګيدړمخې ته راروان شو ګيدړچې دليوه قدرداني وليده خپل قدمونه يې لوی کړل اوځان يې ليوه ته ورساوه .

ليوه :ډيروخت دي تيرکه ټول ليوان راغلي ټول خبرشوي اوستاسې دراتلولارې موځارلې ( زړه ) مې وچې يودروليږم بيامې ويل هسې نه چې څوك خبرنه شي اوپلان شنډنه شي ځکه دويم ډيرکم عقلان دي اويونيم که ستاسې غوندې هوښيار اووطن پرست وي.

ګيدړبيامن غوښې واخيستې اوويل يې اوس نوکه خيروي ميله توديږي په غوړوکې به مې شپې وي دچاخبره له خوښيو په جاموکې نه ځايده.

ګيدړ : جنابه بخښنه غواړم اورچې ولګيږي دوچوله غمه په کې لانده ام سوځي دسرونو لوبې دي دټال کيدوسبب داوماتراوسه په همدې فکر کاوه چې څه بايد وکړو ، وخت ډيرحساس دی موږ بايد يوه شيبه هم عبث نه کړو اوس هغه وخت رارسيدلی چې پلرونو، نيکونواوحتی موږورته ، شيبې شميرلې خوافسوس په هغو ملګرو چې په دغو ټاکونکيو شيبولااوس هم خبرنه دي .

ليوه : نه نه غم مه کوه ماټول ليوان خبرکړي ډاډه اوسئ واړه زاړه ټول راغلي ځکه دادويوکس کارنه دی ډزې په کراره نه کيږي بيادشمني کول انقلاب راوستل څه اسانه خبره نه ده .

ددې خبرې سره ګيدړ بيامن غوښې واخيستې اوپه زړه کې يې پټ شکر ويست چې ټول دمخې راغلي ، نن به يې دسرونو مناری ګورم که خيروي .

ګيدړ : ټول کارونه به آسانه شي زه پوره ډاډمن يم چې زموږ په يووالي به ټول ظالمان ورك شي .

ليوه : منم چې زمونږ قوت به ظالمان چپه کړي خودانور خواران چې تل زموږ له خواداړل شوي اوخوړل شوي دوی به څنګه په ځان راټول کړو هغوی خوله موږ ( ځناورو) نه ويريږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیډړ : نه نه مامخکې وویل چې هیڅ تشویش نه شته یواځې لویه ستونزه دظالمانو نسکورول دي پاتې شول دانوردوی ، ته به اعلان وکړوچې نه یواځې زموږ له خوړلواوداړلو په امان شول بلکې دکور ، ډوډۍ او....غم یې هم موږ خورو ګوره چې بیا ټول زموږ تابع اوملاتړې کیږي اوکه نه ، نوې نوې پروجې اونوې خبرې به هرڅه نوي کړي ،

ورته به ووایو چې نورنوهرڅوك پوهیږي اوخپل کاریې زموږ په پاچایۍ کې په چابندیزنه شته هرڅه چې کوي خود اختیار ه دي، هرڅوك به یې خپله ګټې اوخپله څټې هیڅوك دبل چادکاراو خولو تویولو نه شي اخیستلانکور، ډوډۍ او..... دابه زموږ لومړنی شعاروي

اودابه هم روته اعلان کړوچې څوك له هیچانه شي ویریدلای. په تیره چې لاپه سترګونه لیدلی کیږي اونه پرې لاس وهل کیږي داټولې زړې اوبې مفهومه خبرې به ختمې کړو .

ټول باید چې زموږ اطاعت وکړي اوکه ویریږي هم باید زموږ نه وورېږي ځکه چې هرڅه کولای شو.ټول قوت مو په لاس کې اودځنګل ټول وسایل موپه اختیارکې دي .

جناب مشرصیب دهرڅه زیربناء اقتصاددی څوك به بیانروي چې زموږ خلاف آن په خپل زړه کې خلاف خبره تیره کړي،

ددبدبو خاوندان به یومخ ختم شي، خان، خانيءاوځان ځانۍ به ام یومخ په اوبو لاو ( لاهو) کړو، هیڅوك بیادومره نرنه وینم چې موږ ته بریتې تاوې کړي .

هوتاسې بیخې بي غمه شئ زه به تاسو ته ټول نظام برابر کړم فقط چې ستاسې اجازه وي سرکوزی( خوګ) به زموږ ددولت لپاره یوه لویه اومفصله کړنلاره اواساس نامه جوړه کړي اوهم دارنګه به دمخالفینو دټکونې اوله منځه وړنې لپاره یوه ښه اومنظمه وحشتناکه اردوهم جوړه کړو چې په تشکیل کې به یې په خپله لیوان ، سپي اودځنګل نورمخلص داړه ماران اوغاښور تنظیم کړو .

لیوه دې ټولو خیال پلووته سرښوراوه اومسکی ، مسکی کیده دګیدړ ویناچې تمامه شوه ، لیوه بیا وخندل اوویې ویل ( ډیر هوښیارېې اویاخو خبروې ، دغه ټولې خبرې چې تاویلې مافکر

کاوه چې مادرته ټکي په ټکي ویلي وي په دې ځای کې لیوه ته مخکنۍ خبره وریاده شوه چې سودایې په کې بنده وه خپلې خبرې یې غوڅې کړې اوله ګیدړنه یې پوښتنه وکړه، رښتیا تاویل ما خوب لیدلی زما سوداوه ښه شوه چې رایاده شوه لمړی راته خوب بیان کړه بیابه ګورو .

هغه چې وایي درواغجن حافظه نه لري له ګیدړنه هم دخوب لیدل هیروخوددې له پاره چې په دې حساس وخت کې دلیوه شك پیدانه شي ژرېې کړه هودرته وایم ښه شوه چې تارایادکړ که رښتیادرته ووایم اصلاً زه همدې خوب دومره زړورکړم !

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب وینم چې دځنګل سرداران ټول په درانه خوب بیده وېي سخت ژمی وي په آسمان کې تورې تورې وریځې اوړي رااوړي اوټول وطن په واورو تك سپین وي اوزه سخت تږی یم اوبه مې لټولې خوااوشاټولې واورې وې اوزه ورو ورودچینې غاړې ته روان وم چې هلته ګرمې اوبه وڅکم په دې وخت کې لیوه پرې غړ وکړنو بیا ؟

ګیدړ : بیاصیب ګرمواوبوته ونه رسیدم اوهمداسې تږی راپورته شوم .

لیوه : ستادې انصاف روزې شي ماویل چې تابه څنګه خوب لیدلی وي؟

ګیدړ : نه صیب تاسې پونه شوئ دخوب ماناته ګوره ستاسې چې هرڅه نظروي مګر زمالپاره دغه خوب یونوی زیری راکوي .

لیوه : دڅه شي زیری ؟

ګیدړ : دیوبدلون اودداسې اوښتون چې زموږ اوستاسې په کې پوره ګته ده بیا به داخپلې غټې غټې بریتې تاوو اوبې غمه به ګرځو .

ددې خبرو سره لیوه بیا چورت واخیست ټول خوب ورته په رښتیا ډیر خوندورښکاریده خوچې دګیدړتږي راپاڅیدلوته به یې پام شو بیا به یې بریتان زوړند اویوڅه شك به واخست ژربه یې په زړه تیرکړه : خیرکه هرڅه وي په ګیدړبه وي .

لیوه : پروګرام څنګه دی ؟

ګیدړ : هرڅه تیارټول کارونه جوړ دي مګر زه تاسې سره یوه وروستۍ مشوره کول غواړم .

دواړه له نورولړ راجلاشول .

دلیوه په زړه چې دقدرت لمبې بلې وې تادي یې وه چې ژرځان دلیوه نه دپاچا په نوم ونوموي مګګر دګیدړپه زړه چې دقهر اوکسات لمبې بلې وې بیابل شان وې .

ګیدړ : هرڅه خلاص دي داسې فکروکړئ چې تاسې سرله همدغه شیبې دځنګل عام اوتام واکدار یاست خوزماپه نظریو ډیرکوچنی اوناچیزه کارپاتې دی چې دهغه وروسته به زه درته دبریاوو مبارکي اودعاکوم

لیوه په سوداکې شو .

لیوه : راته وایه چې خلاص یې کړو ؟ !

ګیدړ : درټل شوي پاچایوکوچنی زوی پاتې دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليوه : كه دې خوښه وي دېرانگانونه به يې مخكې كړو.

گيدړ : نه صيب زه خوپه هركاركې ډيرفكر كوم ځكه ستاسې ناكامي زموږ ناكامي اونابودي ده اوس خوموږ نوك او اورى يوهرڅه بايد په دقت وشي .

ليوه : وخت نږدى ستاسې څه خيال دى ؟

گيدړ : مشوره زماداسې خوښگه ده داخوهسې هم هيڅ نه شي كولاى يعنې زموږ دخوځښت مخه نه شي نيولاى ، زه وايم له وژلو به يې تيرشو ژوندى به يې په مړوحساب كړو

ليوه : اوهغه څنگه ؟

گيدړ : عزت به ترې واخلو اوسپك به يې كړو، فقط تاسې مې خبركړئ نوربې غمه شه .

نوروخت نه ضايع كوواوس داوخت رارسيدلى چې تاسې ټول ليوان په يوه ځاى كې راټول كړئ زه ځم چې گيدړانوته وظيفه وركړم چې دځنگل ټول اوسيدونكي ستاسې په حضور كې راټول اوملا ترمواعلان كړي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورمه برخه

خومره په ما ګران دي د اشنا ليده

لاړمه اوس راغلمه اوس بيا ځمه

ګيدړ : په نيولي نيولي ساپړانګ ته ځان ورساوه پړانګ چې دګيدړدراتلو په لارکې سترګې ښخې وې دګيدړپه ليدوېې غاړه تازه کړه .

پړانګ : څنګه سانيولی اوترور ښکاري ؟

ګيدړ : سردارجنګل تاته لوګی شم ترورپه دې يم چې دليوانو بې حيايي مې ژړوي . .

پړانګ : تاوځارل څه غواړي !

ګيدړ : پلاربه مې هم تروريږي خومره ژر چې کيږي پړانګان خبرکړه هغوی ټول راټول شوي اوساعت ګرځی دځنګل له ټولو اوسيدونکيونه دپاچاهۍ ملاتړ اوبيعت غواړي ، هلۍ خومره ژر چې کيدلای شي زموږله وسې خو همدومره منډې کيدلای شي چې کوويې جنګ اودليوانو ماتول نوستاسې کاردی ای کاش چې څه زموږدلاسه پوره وای بيابه تاسې ليدل وای خوافسوس تشه لاسه ته مې دښمن يې زور موپرې برنه دی اوستاسې خويووليدلی اومات غاښ هم ورته کافي دی .

دپړانګ په زړه نوري هم داورلمبې بلې شوې .

پړانګ : ستاسې بلاهم ترې خلاصه ده غم يې مه کوه ډير ژربه خبرشې چې ځنګل له ليوانو اوداړه مارانونه پاك شو .

مسته دې تازه ګرځي غم يې دلا لي په سر

ګيدړ د ليوانو په دغوکړو باندې په ښکاره ځان ډير

خواشينی اوخپه ښوده خوپه زړه کې پرې لوی اخترو او ويل يې

توره دې لا لا وهي مرۍ دې عبدالله وهي

که خير وي هرڅه به تيارپه تياره راپاتې وي واه واه يولاس او دوه مخونه .

پړانګ : ستاسې دغه همکاري اوخواوږي به هيڅ کله هم هيره نه کړوبلکې دنيکه مرغه زموږ په درباركې تاسې دتل لپاره ځای پيداکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګیدړ : مننه داستاسې پیرزوینه ده ګنې موږ اوښورواډیر واټن منځ کې دی خوبیاهم ستاسې په لطف هرڅه کیدوني دي ډاډه اوسئ چې زموږ ټول قوم درسره ولاړ اودامو په ځان ګڼلې که اړتیا شوه خپله وینه به هم ستاسې له سره قربان کړو. او ښایې زما په قربانۍ به جوړې پوه شوی یاست ماخپل سر په لاس کې ونیوه اوستاسې دپوره معلوماتو په خاطر دهغوی تورمخوظالمانو پلو ورغلم ترڅودوروستي پړاودټاکلوله پاره پوره اوسوچه معلومات راوړم چې ددې کارتصورپه ویښه څه چې په خوب کې هم مانه شو کولای .

پړانګ : مننه ، مننه ، منوبې اونن به زه هم ستاسې ددې میړانې په مقابل کې تاسې ته په خپل ځنګ کې دتل له پاره ځای درکړم اوزموږ په سیوري کې موچې هرڅه غوښتل په ازاده ډول یې کولای شئ .

ګیدړ : کورمو ودان چې موږ ذلیلا نو ته په خپل سیوري کې ځای راکوئ همداستاسې مشري، شفقت اوخواخوږي په ډاګه کوي که رښتیا ووایم ځنګل ستاسې په واکمنۍ ښه ښکاري چې له اصله او پلارنیکه موکړې ، پاتې شول دا نور لیونیان دوی په ځان خاندي اوپه خپل ژوندانه تنګ شوي اوداسې ښکاري چې پرته له مرګه به هیڅ بل شی په لاس رانه وړي . .

یواځې همدومره شیبې لاپاتې دي چې نورملګري خبراودلیوانو جرړې وویستل شي موږ لاس په دعااوستاسې دبري په هیله یو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځمه برخه:

دا کاروان په شا نه ځي

ځي د کهکشان په لور

لیوان ټول راټول شوي وواوزوړیې جوړکړی وتل دې وي .... اونه دې وي چغې اودخوښۍ اتڼونه یې کول اوویل یې موږ به دظالم په سرو وینو سورانقلاب راولو ، موږ نورنه ویریږو دخولې کلپونه مو مات اوسکوت موختم کړی اوموږ ډاډه یوچې زموږ انقلاب په شانه تلونکی ، شکست ناپزیردی موږ سره داولس زور دی اودغه زور ورسیلاب ته هیڅ څوک نه شي مخې ته راتلای ، موږپه خپله لوی طاقت یواوبل طاقت نه شو منلای .

مشرلیوه چې دالویه اجتماع ولیده ځان ترې ورك شواوراټول شوې قوم ته یې وویل :

ددغه لوی ځنګله دفردفرد وطن پرست په تیره بیا تا سو خوارانو نه چې تل مودارتجاع اودتیررژیم داستبداد دلاسه زیات زجرویستلی اوستم مولیدلی دی او په بیلابیلو نومونوټکول شوی یاست ،

تاسې ته دزړه له کومې دسترانقلاب مبارکي وایم !

تاسې پوهیږئ اوبلکې وملیدل چې پخوادځنګل واك دیوظالم په لاس کې وهرڅه چې یې غوښتل هغه یې کول اونورټول دځنګل اوسیدنکي یې له پامه غورځولي ومګر نن تاسې ټول اولس ددې شاهد یاست چې موږ ځان واکمن نه بولو بلکې تاسې ټول دخپل وجودغړي بولو داچې دغه دخوارانو زیارکښانو انقلاب دی موږ پیلې ده چې دځینو کارونو او نومونوویاړهم ستاسو خوارانو اوغریبانو په نوم کړو. چې دهغې جملې نه به زه یو.دوه اوس تاسوته په ګوته کړم او............ بیا .

لومړۍ ټاکنه : تاسو ته جوته ده چې په دغه لوی ځنګل کې له ګیدړه خوارمګرهوښیاراوپوه بل څوك نشته موږ دخپلې سالمې پالسۍ له مخې هغه ته په مجلس کې ځای ورکړاودمشاورپه توګه دتل لپاره زموږپه کابینه کې وټاکل شو،

دویمه بیلګه : تاسې به اوریدلي وي چې وایي چیرې چې کاروي هغه په چاري کاروي تاسې وګورئ زموږ دځنګله غوایان څومره زحمت اوباسي داسې نه چې تاسې اویادانورزحمت کشان نه یاست بلکې دټولو په نسبت چې سخت اوډیرکارکوي هغه غوایان دي ، نوله همدې امله زه لا زمه ګنم اوستاسو څخه هیله کوم چې زموږ دغه ستراوویاړمن انقلاب دهمدغه ویاړلي خواراو زحمتکش په نوم یادکړئ .

ستاسو رژیم به دګران ځنګل دپرمختیااولوړتیااوداولس دآرامۍ په لارکې پراخه هلې ځلې پیل کړي اومثبت ګامونه به هم اوچت کړي ، موږ تشې وعدې نه کووبلکې په عمل کې به داجوته کړو چې دځنګل دآبادۍ له پاره کار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کووالبته زموږ زياته پاملرنه به دځنګل دهغه شميراولس اوسيموته وي چې زيات محروم ساتل شوي اوډير زيات ستم يې ليدلی وي .

دځنګله له ميړني اوقهرمان اولس څخه زماهيله داده چې دژړه له کومې دخپل دغه دولت ملاتړوکړئ اوله موږ سره همکاري وکړئ ، په هغو پروژوکې چې دستاسونوی دولت به يې دځنګل دسمسورتياله پاره ترلاس لاندې نيسي ، جدي اوفعاله ونډه واخلئ ، دانقلاب دمترقي هدفونو ترسره کيدوکې دزړه له کومې زيار وباسی اوپرې نږدئ چې داولس ماتې خوړونکې دښمنان دخپلې بې شرمانه توطيو سره دستاسو ترمينځ بی اتفاقی واچوي اوپه خپله ترې ګټه واخلي ، بايد وويل شي چې ستاسو دولت دځنګل دملي اقليتونو له ټولو ولسونو سره دهغوی دطبقاتي موقف له مخې چال چلند کوي نه دنژاداوپوټکي !؟

زموږ دانقلاب دښمنان زموږ انقلابي دولت نه شي تحمل کولای له دې امله چې زموږ انقلابي دولت دکارګرانو ، اوزيارکښو پرګنو څرګندوی دی، دخيټورو فيوډالانو دطبقاتې ستمګرانو اواستثمار ګرانو دګټو اودهغوی چې هرڅه دميم زرما ټول يې زما په وزن ګردانوي ضد وي .

اوښايې دښمنان داتورهم ولګوي چې موږ ستاسې دعقيدوي او فکري لاروخلاف يونه موږ په ډاګه وايو چې هرسړی پيدادی خپل خپل کارلره کنه !؟

موږدهيڅاواهيڅ کارمخالف نه يو، هرڅوك چې هرڅه غواړي په آزاده او ديموکراتيکه فضاء کې يې کولای شي-

مورهيڅاته غړوندی نه اچوو مطلقه آزاد اوخوداختيار ياست هر څه چې غواړئ پرته دهربنديزيې سرته رسولی شئ زموږ دولت هر ډول تنګ نظري غندي اوهيڅاته به اجازه ورنه کړو چې دچاپه شخصياتوکې لاس ووهي!؟

اوپه دې بايد هم پوه شو چې دغه ستردوران جوړونکی انقلاب مفت او وړيا لاس ته نه دی راغلی .

اودملي ضد رژيمونواودتيرو ظالمانوپه خلاف چې دپيړيو پيړيو راپدې خوايې زموږ پرولس باندې بې رحمانه ظلم اوستم کړی دی خپلې پرله پسې اوبې امانه مبارزې پيل کړې اوبالاخره مو دغه فرعوني مانۍ رانسکوره کړه .

ګرانو! ستاسو انقلابي دولت به په هيڅاپورې اړه نه لري ستاسو دولت به ميراثي دولت نه وي چې څوتنه دځنګل تش په نوم سرداران دهغه واکداري کوي .

بلکې له دې وروسته به ستاسو ددولت اداره کوونکي دځنګل په مليونوتنه شريف ميړني اولسپال وي .

ستاسو ددولت مشرتوب به دکار ګري طبقې دځنګلي ولس په ديموکراتيك ګوند پورې اړه ولري نه په هغه اودغه قوي اوکمزروي توراواسپين پورې ستاسو دانقلابي دولت غړي به دځنګله دبيلابيلو قومونو اوسيموڅخه وي دسياست اوپوهې له مخې به نه وي مقرر کړی شوي بلکې دهغوئ دمقرريدو معياربه ګوندي کارروپه ګوند کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيارګالل ، وطن پرستي اوفداکاري اودهغوی له بيلابيلو ګوندي مبارزو نتيجه وي که چيرته دګوند اودولت کوم غړی په هرمقام کې چې وي دګوند اود انقلابي دولت داصولو اومقرراتو څخه سرغړوي سملاسي به جزاورکړی شي دځنګله ټول اوسيدونکي مجبور اومکلف دی چې زموږ دانقلابي قوانينو اوفرامينو احترام وکړي اوپه هرصورت کې يې ومني اودمخالفت په صورت کې به ټولو ته دسرپه کاسه کې اوبه ورکوو؟ !

چې نوروته عبرت شي ، دامهمه نه ده چې هغه يوکس وي اوکه په زرهاوو وي ، ټول به دسوتې په زور لاري ته راولو اويابه پرې هديرې ډکوو .

پړانګ چې دپړانګانو اوليوانو پسې ولاړ ، ګيدړهم له ډيرې خوښی خپلو ګيدړانوته ولاړ ټول يې راټول اوخپله ويناې داسې پيل کړه ،

ای زمابي اتفاقه ، په خوب ويده اوپه ځان مين قومه !

ترڅوبه دبل لاس لاندې ژوند کوو، ترڅوبه مودتمې اوهيلې ځنځيرونه په غاړه کې وي اخرڅومره ظلم ، ستم نارواهرڅه يوحد لري ، ترکومه به دبل څپيړې اوزموږ مخونه وي ، زه نه پوهيږم چې موږ په کومه ورځ پيداشوي يوچې ازلي بدبخته يو، ستاسې دزغم کاسی به کله ډکيږي ؟

ای زمادپيړيو ، پيړيو بدبخت اودلتې اوبې ننګی په خوب ويده قومه!

تاسې به دغلامی هنکړی کله اوڅنګه ماتوئ؟

اي زما دګلونو په څير دانه دانه ميړونو تاسې به کله په يوه تار پييل کيږئ او په يوه خوله يوه غږ اويوګزاربه دظلم مانی نسکوروئ .

تاسې به کله تاريخ جوړوئ اوتاسې به کله ځان دګيدړپه نوم نه بلکې ديواتل اوسرښندونکی قوم په نوم په دانورو ظالمانو پيژنئ ؟

زه خو وايم چې دبل دلاس لاندې دزرکاله پاچاهی نه ي وساعت دآزادی ژوندغوره اوبهتردی، دنورودمينت دغوړو، زيړو نه دخپل همت سپوره توره ډيره ښه ده ،

زه وايم نن موږ ډيرخوش بخته يوله نيکمرغه ښه موقع په لاس راغلې راځئ چې ټول يوموټی په يوه لاره روان اوديوه مشر کشران شواودلوی ځنګل په تاريخ کې ځانته ددغو نورو قومونو په څير يونوی اوښکلی باب پرانيزو .

اوريدلي به مووي چې وايي :

به هرکارکه همت بسته ګردد اګرخاری بودګلدسته ګردد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې وګورئ زموږ په ځنګله کې ترټولوکوچنناوکمزوری موجود میږیان دي هغوی دخپلې خیټې اهل اوعیال دنفقی له پاره شپه اوورځ په ځان یوه کړې ، باران ، رڼااوتیاروته هم نه ګورې اوپه هر حال کې دخپل همت او مټ په برکت ځانونه په خپله ساتي اوزموږ غوندې دخیټو دوزخونه دنوروپه پاتې شوونو نه ډکوي .

په خوانی نکل دی وایي چې یوه ورځ اوښ فکر وکړچې ددومره غټوالي ، قوت اولوړوالي سره به ترڅه وخته دانسان غلامي کوي اوپه لسګونواوسلګونو به یوه مزې پیلي دیوه کوچني خره پسې روان وي په هغه کې دغه فکراوزړورتیا یوعجیبه انقلاب راوست ټول په یوه خوله اویوه واردانسانانو په مقابل کې راپاڅیدل ډیر شمیر انسانان یې ترپښواوسینولاندې کړل اویو شمیر ترې ایله په تیښته بریالي شول او په دې توګه اوښانو آزادي ترلاسه کړه دامې په دې پورې وکړه چې موږ ته هرڅه په خپله برابر شوي زه فقط ستاسې بیداروال غواړم .

اوپه دې ډاډه یم هرڅه چې پیښیږي زموږ په ګټه دي هره ډله زموږ تابعداره ده . زماداحسان لاندې دي ، زه فقط تاسې ځیرول ،زړور ول ، یوموټی کول اودیوه مشرکشران کول غواړم که مو همت دلاسه ورنه کړوګنۍ چې داهرڅه به خیالي نه بلکې عملي به وي . نوبیازیری درکوم چې هرڅه مومبارك شه .

ټولو مشرګیدړته په غاړه کې امیلونه اوګلان اچول اوبیا به یې له خوښۍ اتڼونه کول ډول ، ډول نارې اوسورې وې اویوبل ته یې دمبارکۍ نارې وهلې چې دربار موخپل شوهرڅه موخپل شول اوس به دځنګل ډیرلوی ،لوی ځناوران موږ ته سلامګي راځي ، موږ له ویشه په تالاخوښ یودهر یوه بری زموږ بری دی په یوه غشي ډوه ښکاره اوبه یوه ځپیړه دوه مخونه ټول مواخته کړل چې بدغواړې په بدواوړي اوس مواوربل کړی که خیروي .

ټول به په کې سوځي شکر چې تورمخولیوانو بې شرمه سپیواو ..... نه خلاص شوو، داټول ویاړدمشرملګري دی هرڅوك دې داسې مشران ولري، بیابه ټولو غږ کړ، موږ پرې ویاړو موږ پرې ویاړو ، بیابه یې دمشرپه ویاړداړې اومښوکې وجنګولې اوغږ به یې کړژوندی وي ملګری فالانی تل دې وي زموږ ..........

ګیدړ چې خپل ډیروخت یې په غاروکې تیرکړی و اوهرڅه یې په ځان درولي و اوس یې چې ارمان په پوره کیدوښکاریده دی هم له ډیرې خوښی نه مستۍ راخیستی ودمینې ،محبت اودعشق لمبې یې اوس په نفس بلې شوې وې نور وناري وهلې اودی له خپلې مینې سره دعشق په سیندلاهوو.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږمه برخه:

ډيري شپې ورځې تيرې شوې زمری له بې هوشۍ نه په سد شوی واودزخمونوخولې يې هم يوڅه سره ورغلې وې چې له غاره رابهر شواودی لاهغلته وچې درد به واخيست ګيدړته به توراوشين شو اوله ځان سره به يې ويل خدای (ج) به مې ښه کړي زه به تاناځوانه سره ګورم .

څه ټپونو پريشانه کړی واوڅه يې ګډوډ خوبونه ليدل .

يوه شپه يې خپل ماشوم اومعصوم بچی په خوب کې ليده چې ګيدړ يې لکۍ پورته کړې اوسپکاوی يې کوي .

له همدغې شيبې وروسته غار خوندورنه کړرابهر شواورساخپلې خيلخانې ته ورغی .

بچي دپلارپه ليدوهيڅ خوښي ونه کړه اودسترګوپه کاسوکې يې اوښکې ډنډوې .

زمری پوښو چې څه پيښه خوشته .

زمري سم له واره دځنګل ټول اوسيدونکی راټول کړل اواعلان يې کړه چې :

زما دزوی سپکاوی چاکړی :

زه يې زړورتيامنم، انعام ورکوم هرچاچې دغه لوی جرائت کړی دغه زړوتيااوجرائت يې دستايلودی خپله پاچاهي ستاسې ټولو حاضرينو په مخ کی دهغه په نوم کوم .

ګيدړچې په زړه خوړلې وه دلته يې يوواربيا غوښتل چې دخپل بام واروې په بل واچوي په څنګ کې يې ناست خره ته پام شوژر يې ورته غوږ کې وويل (( چې پورته شه همدادې وخت دی ووايه چې داکارماکړی ، پاچابه شې ، زموږ دټولو پاچا .

بې عقله خرهم پرته دکوم فکر اوسنجشه پورته شو اوغږ يې وکړ :

))ای حاضرينو تاسې دې خبرشئ چې داکارماکړی ((

داساعت خوزمری له خدايه غوښته سم دلاسه يې خر ميدان ته راکش اوټولوته يې وويل يو، يو راځئ اوپردغه باندې سپريږئ دپاچاامروهريوپه وارواړ راته اوپه خره سپريده دګيدړ وارچې راغی خرډير ستومانه شوی وسريې څه له ستړيااوڅه له شرمه زوړنداجولی وفکر يې کاوه چې په څه غم واوښت .

ګيدړ چې ورنږدې شو ورته يې په غوږ کې وويل پورته ګوره اوس چې پاچاشوې موږ خوارانوته نه ګورې همداوخت وچې زمري ته دګيدړ په ليدو دهغه پخواني چلونه اومکرونه ورپه زړه شول زغم يې تمام شو اوپه دواړو يې ورغړم کړ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ليکوال نور اثار

- 1دازميښت ډولی ( دلنډوکيسو ټولګه ) چاپ
- 2رنې اوښکې ( دشعرونوټولګه ) چاپ
- 3دځنګل ځناورهمدااثر ( تاريخي کيسه ) چاپ
- 4دوې خبري ( تاريخی ناول ) ناچاپ
- 5سيندپه منګوټي کې د(استادصميم ليکنې)//
- 6سپين شعرونه ( ادبي ټوټې سپين شعرونه غزلې)
- 7دريم عمر : ( تاريخي يادښتونه اوڅيړنې)
- 8ځان پېژ:

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**